مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې نهمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۳۰مه | ۶۰۳یمه ګڼه

# ډاکټر عبدالله عبدالله: ملا برادر ته مې ویلي، که افغانستان ته سوله راولو، نو رښتیني اتلان به موږ وو


۳

د سولې په خبرو کې ځنډ او د امریکا مداخله
۲ مخ

تر یوه اسمان لاندې اوسېدونکي انسانان د یوې کورنۍ په څېر دي؛
۲ مخ

د پاکستان- هند اړیکې او پر افغان سوله یې اغېز
۳ مخ

## ایرو ایشیا: د افغانانو له مخالفت سره سره، پاکستان په ډیورنډ فرضي کرښې د پراخو تاسیساتو جوړولو پلان لري

پاکستان د افغانانو له مخالفت سره سره، پر ډیورنډ فرضي کرښې د خپلو تاسیساتو جوړولو او پیاوړي کولو ته ادامه ورکړې او غواړي د یوه پلان له مخې دا تاسیسات نور هم پراخ کړي.
ایرو ایشیا رېویو لیکلي، پاکستان له څو کلونو راهیسې پر ډیورنډ فرضي کرښې تاسیسات جوړوي او هڅه کوي چې پر دغه سیمه خپل کنټرول ډېر کړي. سرچینه زیاتوي، سره له دې چې افغان حکومت د پاکستان د اقداماتو مخالف دی، خو پاکستاني لوري خپلو چارو ته ادامه ورکړې او ان په ځینو سیمو کې یې افغان خاوره هم لاندې کړې ده.
په مقاله کې وړاندې راغلي چې دا فعالیتونه پاکستان ته ډېر وخت د سر په بیه تمام شوي او له ۲۰۱۳ کال راهیسې پر کرښه د فعالیتونو پر مهال دوه سوه پاکستاني عسکر په بېلا بېلو بریدونو کې وژل شوي دي. سره له دې چې ډیورنډ د پاکستان او افغانستان ترمنځ رسمي کرښه نه ده، خو اسلام اباد د رسمي کرښې په سترګه ورته ګوري او په غیر قانوني توګه یې تاسیسات ورباندې جوړ کړي دي.
دا په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د هېواد په ختیځ او جنوبي سیمو د پاکستاني ملېشو تحرکات د بل هر وخت په پرتله ډېر شوي، پر ډیورنډ فرضي کرښې یې ان له صفري نقطې دېخوا ته په افغان خاوره کې اغزن سیم غځولی، خو افغان حکومت یې پر وړاندې جدي اقدام نه دی کړی.

## مک ماسټر: له طالبانو سره د مذاکراتو په برخه کې د سپیني ماڼۍ تګلاره ناسمه ده




۳ مخ

## کتاب

۴ مخ

### موسی شفیق له مدرسې تر صدارته




ان ویل کېږي چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د یرغل یو لامل د موسی شفیق پروګرامونه وو، که شفیق او پاچا دواړه پاتې وی، بیا نو روسانو او د دوی پلویانو دا وخت نه شوای پیدا کولی، چې پر افغانستان برید وکړي.

## چارواکي: د نیمرزو د ګمرک عواید د تېر کال په پرتله ۶۱ سلنه زیات شوي دي




د نیمروز ولایت سیمه‌ییز چارواکي وایي چې د دغه ولایت د ګمرک عواید د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تېرکال د ورته مودې په پرتله ۶۱ سلنه زیات شوي او نږدې یو میلیارد افغانیو ته رسېدلي دي.
د نیمروز د ګمرک مسوولین زیاتوي چې د دغه ګمرک عواید د روان کال په شپږو میاشتو کې ۹۱۰میلیون افغانیو ته رسېدلي، په داسې حال کې چې د تېرکال په لومړیو شپږو میاشتو کې دغه شمېر ۵۶۲میلیون افغانیو ته رسېده .
د چارواکو په خبره، سږکال د تېرکال په پرتله د دغه ګمرک په عوایدو کې ۶۱سلنه زیاتوالی راغلی دی. دوی زیاتوي، چې د روان کال ترپایه پورې د نیمروز د ګمرک عواید د پام وړ زیات شي.
د یاد ګمرک چارواکو په خبره، د کنټرول زیاتوالی، د دغې اداري له بېلابېلو برخو څخه څارنه او ارزونه د دې لامل شوې چې عواید د پام وړ زیات شي.

## یونیسف: افزایش موارد ابتلا به فلج کودکان در افغانستان قابل نگرانی است



همزمان با آغاز کمپاین واکسین فلج کودکان در افغانستان، دفتر صندوق حمایت از کودکان (یونیسف) از ابتلای ۴۹ کودک به این بیماری خبر داده است.
مسئولان یونیسف گفته‌اند که این تعداد ابتلا در افغانستان در ۹ سال پیشینه نداشته است. این اداره می گوید که افزایش موارد ابتلا به این بیماری در افغانستان قابل نگرانی است.
به گفته مسئولان این دفتر، از آغاز سال جاری میلادی در افغانستان ۴۹ کودک به این بیماری مبتلا شده‌اند که این آمار در ۹ سال گذشته سابقه نداشته است. پیش از این یک کودک هشت ماهه در اثر مبتلا شدن به پولیو در ولسوالی نکه ولایت پکتیا جان باخته است.
۳۳ تن از این کودکان در جنوب افغانستان به این بیماری مبتلا شده‌اند. به گفته مقام‌ها، برای نخستین بار در ۱۴ سال گذشته در ولایت شمالی شرقی بدخشان هم این بیماری دیده شده است. پارسال ۲۰ کودک در افغانستان به این بیماری مبتلا شده بودند.
سید کمال شاه سخنگوی یونیسف به رادیو آزادی گفته است که به دلیل ناامنی حدود دو میلیون کودک از واکسین باز مانده‌اند: «دو تا دونیم میلیون کودک در هر کمپاین از واکسین باز می‌مانند. این مسئله بیشتر در مناطق تحت کنترل طالبان است از سوی دیگر مشکلات اجتماعی هم وجود دارد برخی افراد اجازه نمی‌دهند که کودکان‌شان واکسین شود.»

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریـځ

## د سولې په خبرو کې ځنډ او د امریکا مداخله

شل ورځې پوره کېږي چې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو پلاوی د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره هلې ځلې کوي، خو لا هم دوی د دغو خبرو لپاره پر کاري اصولو او کړنلاره توافق نه دی کړی. د دواړو اړخونو د تماس ډلې ترمنځ اته غونډې شوې دي، خو په دوو اساسي مسایلو کې اختلاف هر څه په ټپه درولي دي. که څه هم دواړه اړخونه وایي چې ځو ځله یې بدیل طرحې هم وړاندې کړې، خو د پرمختګ هېڅ خبر نشته .

اوس اساسي پوښتنه دا ده چې دا خنډ او ځنډ به تر کله وي او څنګه به حل کېږي؟ دا ښکاره ده چې که دواړه اړخونه له بهرني فشار او درېیمګړي پرته همداسې پرېښودل شي، نو په میاشتو میاشتو به هم پر اصولو، کړنلاره او اجنډا توافق ونه کړي. له دواړو اړخونو لا هم د سولې لپاره داسې اراده نشته چې پکې له خپلو ځینو اساسي دریځونو تېر شي، نو ځکه د طبیعي توافق چانس کم دی. له دې امله چې په تېرو نږدې شلو ورځو کې دواړه اړخونه یوازې یو له بل سره مخ دي او کوم بهرنی فشار نشته، نو ځکه معقول انعطاف هم نشته چې ستونزه حل شي. څومره چې د دغو خبرو ځنډ زیاتیږي، همدومره د یو درېیمګړي یا تر دې په په واضحو ټکو د بهرني فشار اړتیا زیاتیږي چې هغه تر امریکا کارنده او اساسي فشار بل نشته چې دوی اړ کړي.

نو امریکا به کله مداخله کوي؟

د افغانستان د سولې پروسه د امریکا له خوا روانه شوې او دوی به یې پر مخ بیایي. دا سمه ده چې امریکا اوس هم ګټه کړې، خو که په راتلونکي کې دا پروسه تعقیب نه کړي، نو ګټې به یې له ګواښ سره مخ شي. له طالبانو سره د توافق له لارې امریکا ډېر څه تر لاسه کړل. امریکایي ځواکونه، مرکزونه او بنسټونه خوندي شول، د زرګونو ځواکونو د وتلو لپاره خوندي لاره برابره شوه، د امریکا په لګښتونو کې لسګونه میلیارده ډالره کمښت راغی او د دې تر څنګ طالبانو د امریکا له دښمنۍ لاس واخیست. دا هغه څه دي چې امریکایانو تر لاسه کړي او ټرمپ ترې په راتلونکو ټاکنو کې ګټه اخیستلی شي، خو د دې لپاره چې د امریکا اوږدمهاله پلانونه عملي شي او ګټې یې له ګواښ سره مخ نه شي، دوی اړ دي چې د سولې روانه پروسه بیا هم تعقیب کړي، مداخله وکړي، فشار راوړي او شته خنډونه له منځه یوسي. که د سولې دا خبرې بریالۍ نه شي، نو امریکا اړ ده چې د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړي چې له یوه اړخه به دا ملاتړ امریکا ته ګران پرېوځي او له بله اړخه به د دغه حکومت پاینښت هم سخت وي. له بله اړخه که دا خبرې نتیجه ور نه کړي، نو طالبان به زور کاروي او د زور له لارې د طالبانو بریا به د امریکا د ماتې او د طالبانو د بریا تصویر ورکړي. له همدې امله امریکا به د سولې دا خبرې بریالۍ کوي. د دې پروسې د بریا لپاره له یوه اړخه امریکا ډېره بېړه نه لري او له بله اړخه غواړي هغه وخت مداخله وکړي چې ټول اړخونه او آن عام خلک د امریکا د مداخلې غوښتنه وکړي. په خبرو کې ستونزې او ځنډ به همدا حالت برابر کړي، ژر به د امریکا مداخلې ته لاره هواره شي او هغوی به مداخله وکړي، څو اوسنی خنډ له منځه ولاړ شي. اوس به پرمختګ وشي، خو بیا بیا به خنډ او ځنډ رامنځ ته شي او امریکا به یې د له منځه وړلو لپاره بیا بیا مداخله وکړي.

له بده مرغه د ښکېلو اړخونو دریځونو او چلند دا پروسه پردۍ کړې او اوس یې برخلیک تر ډېره د امریکا په لاس کې دی.

# تر یوه اسمان لاندې اوسېدونکي انسانان د یوې کورنۍ په څېر دي؛

## راځئ چې یوځای د چین او افغانستان د ګډ برخلیک ټولنه جوړه کړو



لیکنه: **وانګ یو**
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

سبا د چین د ولسي جمهوریت ۷۱یمه کلیزه ده. چین په تېرو ۷۱ کلونو کې داسې جادویي پرمختګونه کړي چې په بشري تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي. په ۱۹۵۲ ز کال کې د چین د ناخالص کورني تولید کچه ۶۷،۹ میلیارده یوان یا د سړي سرکلني عاید له مخې، ۱۱۹ یوان ته رسېده، خو له لسیزو سخت کار او هڅې وروسته په ۲۰۱۹ ز کال کې د یاد هېواد د کورني ناخالص تولید کچه ۱۰۰ ټریلیونه یوان یا ۱۴،۴ ټریلیونو امریکایي ډالرو ته ورسېده، چې د سړي سرکلني عاید له مخې ۷۱ زره یوان یا ۱۰۳۰۰ ډالره کېږي.

په تېرو ۷۱ کلونو کې چین تل متحد پاتې شوی او له نورې نړۍ سره یوځای مخ پر ودې روان دی. چین اوسمهال د نړۍ د ۱۲۰ هېوادونو تر ټولو لوی سوداګریز شریک دی او د ټولې نړۍ د وارداتو ۱۱ سلنه جوړوي. دا یوولسم پرله پسې کال دی چې چین د نړۍ تر ټولو لوی دویم مارکېټ کېږي او دغه راز د نړیوالو تولیداتو عمده تامینوونکی دی. چین د ۲۰۲۰ ز کال تر جنوري پورې له ۱۳۸ هېوادونو او ۳۰ نړیوالو سازمانونو سره په ګډه د یو کمربند او یوې لارې نوښت (BRI) د جوړولو په تړاو تړونونه لاسلیک کړي دي. چین له ډېر پخوا راهیسې د ورېښمو له لرغونې لارې د مسافرو او پوهانو د تګ راتګ په شان له نورې نړۍ سره نږدې پاتې شوی دی.

کووید- ۱۹ وبا په ۲۰۲۰ ز کال کې د نړۍ تر ټولو لویه (توره پېښه) وه، چې لاهم ټوله نړۍ ترې کړېږي. په تېرو نږدې اتو میاشتو کې له دې وبا سره د اغېزمنې مبارزې په موخه، د چین ټول قومونه او خلک د ولسمشر شي جین پینګ په پیاوړې مشرۍ یو موټی پاتې شوي دي.

چین د نړۍ له لومړنیو هېوادونو څخه و چې دا وبا یې تر خپل کنټرول لاندې راوسته. کله چې کرونا ناڅاپي وبا د خلکو ژوند او سلامتیا له ګواښ سره مخ کړل، د چین دولت د خلکو ژوند ته لومړیتوب ورکړ او په همدې تړاو یې جدي او پرېکنده اقدامات وکړل. په نږدې یوه میاشت کې دغه ویروس په چین کې مهار کړل شو. وروسته په شاوخوا دوو میاشتو کې په چین کې د دغه ویروس نوې پېښې هم ورځ تر بلې راکمېدې، له هغې وروسته په دریو میاشتو کې په هوبې ولایت کې چې دغه ویروس د لومړي ځل لپاره پکې خپور شوی و، بېرته اقتصادي او ټولنیز وضعیت عادي شو او د کرونا مثبتې پېښې صفر ته راټیټې شوې. اوسمهال نږدې یوه میاشت کېږي چې په چین کې د کرونا هېڅ مثبته پېښه نه ده ثبت شوې.

چین یو له هغو هېوادونو څخه و چې په لومړي ځل یې د دغه ویروس له کبله له ځپل شویو هېوادونو سره مرستې وکړې. موږ په ډېر تنګ وخت کې تر ټولو پراخ بشردوستانه اظطراري عملیات پیل کړل. موږ د نړۍ ۳۲ هېوادونو ته د روغتیایي متخصصینو ۳۴ ټیمونه ولېږل، څلورو نړیوالو سازمانونو او ۱۵۰ هېوادونو ته مو ۲۸۳ مرستندویې بستې چمتو کړې او د نړۍ له ۲۰۰ څخه ډېرو هېوادونو ته مو له کرونا سره د مبارزې تجهیزات ولېږل، چې ۱۵۱،۵ میلیارده ماسکونه، ۱،۴ میلیارده محافظتي جامې، ۲۳۰ میلیونه عینکې، دوه لکه او نهه زره تنفسي دستګاوې، ۴۷۰ میلیونه د ټسټ بستې او اته میلیونه یو لک او ۴۰ زره د تبې معلوملو الې پکې شاملې وې. چین د افغانستان په ګډون د نړۍ له مخ پر ودې هېوادونو سره د دغه ویروس په کنټرول کې ډېره مرسته کړې ده.

چین د نړۍ لومړنی اقتصاد و چې د کووېډ – ۱۹ ویروس له پیل سره سره یې بیا هم وده وکړه. دغه راز د چین د اقتصادي شاخص څو برخو مثبته وده درلوده. د روان کال د دویمې برخې په دریو میاشتو کې د چین د ناخالص کورني تولید کچې ۳،۲ سلنه وده وکړه. بېلابېلو بنسټونو وړاندوینه کړې چې د چین اقتصادي وده پر مثبت لوري روانه ده او د روان کال د درېیمې برخې په دریو میاشتو کې به نوره هم زیاته شي چې د کال تر پایه به دا وده له ۵ - ۶ سلنې ته ورسېږي.

د دولت په رهبرۍ افغانستان هم له کووېډ -۱۹ وبا سره د مبارزې په برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي او اوسمهال په دغه هېواد کې وضعیت بېرته عادي حالت ته د تلو په حال کې دی، چې بېرته به ورسره اقتصادي او ټولنیزه وده وغوړېږي. په دې وروستیو کې د بین الافغاني خبرو پیل هم د افغان سولې پروسې په برخه کې مهم پړاو و. دا یوه مهمه پېښه وه چې د افغانستان په تاریخ کې ډېره اغېزناکه ده.

د سپتمبر په ۱۲مه د چین د دولتي شورا غړي او د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په مراسمو کې د ویډیو له لارې ګډون وکړ. چیني لوري ټینګار وکړ چې د خبرو ټول اړخونه باید د هېواد ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي، له سیاسي لارې یوې هوکړې ته ورسېږي، د افغانستان د رهبرۍ اصل ته پابند اوسي او یو پراخ او ټولشموله چوکاټ ته کار وکړي چې ټول اړخونه پکې راټول شي. چین هیله لري چې د افغانستان راتلونکی جوړښت او حکومت به هم په پرېکنده توګه د تروریزم پر وړاندې مبارزه وکړي، د سولې او دوستۍ پر بنسټ ولاړ بهرنۍ سیاست تعقیب کړي او افغانستان د سولې، ثبات او پراختیا پر لور بوځي. چین به د تل په څېر په افغان سوله کې د اسانچاري په توګه خپلو هڅو ته دوام ورکړي او له دې پروسې به خپل ملاتړ کوي.

سږکال هم د افغانستان او چین تر منځ د ډیپلوماټیکو اړیکو د ټینګېدو ۶۵مه کلیزه ده. کرونا ویروس او د نړۍ بدلېدونکي وضعیت زموږ دواړو لورو تر منځ اړیکې نورې هم پیاوړې کړې او له ډېرو اړخونو دا اړیکې ثابتې پاتې شوې دي.

لومړی؛ د متقابل درک، باور، ملاتړ او مرستې دود زموږ په منځ کې ثابت پاتې دی. له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې چین په وړیا ډول له افغانستان سره میلیاردونه یوان مرسته کړې ده. د جمهوریت روغتون، په کابل کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو انسټیټیوټ په څېر یې ډېرې داسې زېربنایي پروژې جوړې کړې، چې افغاناتو ته یې ډېره ګټه رسېږي. افغانستان هم د یوه چین اصل ته پابند دی او د حاکمیت، یووالي او امنیت په برخه کې له چین څخه پرېکنده ملاتړ کوي.

دویم؛ زموږ د دوستۍ بهیر پیاوړی او ژور دی او همداسې ثابت پاتې شوی دی. دا د نړیوالو اړیکو په تاریخ کې یوه معجزه ده چې دوه هېوادونه چې غرونه او سیندونه یې له یو بل سره تړلي، له دوو زرو کلونو ډېره موده کېږي چې تر منځ یې هېڅ جنګ نه دی شوی او په سوله‌ییز ډول له یو او بل سره نظرونه تبادله کوي. ولسمشر شي او ولسمشر غني له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې هر کال له یو او بل سره ناستې لري. سږ کال هم دواړو مشرانو د کرونا ویروس له کبله له یو او بل سره د لیک له لارې اړیکې ټینګې کړې چې دا د دواړو لورو تر منځ په لوړه کچه د مثبتو تبادلاتو او اړیکو د ساتنې ښکارندوی دی. په دې وروستیو کلونو کې په دوامداره توګه د افغانانو په منځ کې د شویو نظرپوښتنو پر اساس، چین په تر ټولو ښه درجه کې راځي. دغه راز د دواړو هېوادونو تر منځ تبادلې هم ورځ تر بلې د ښه کېدو په حال کې دي.

درېیم؛ چین او افغانستان د یو کمربند او یوې لارې په واسطه په خپلو کې د سوداګریزې او اقتصادي راکړې ورکړې د پیاوړتیا په برخه کې ثابت قدمه دي. په ۲۰۱۶ ز کال کې کله چې د یو کمربند او یوې لارې په تړاو د دواړو هېوادونو تر منځ هوکړه لاسلیک شوه، په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او نورو برخو کې راکړه ورکړه هم ورسره غوړېدلې ده. د کابل او اورومچي تر منځ مستقیمو الوتنو او د مالونو لېږدوونکو اورګاډیو زموږ د اقتصادي او سوداګریزې راکړې ورکړې په برخه کې ډېره اسانتیا رامنځ ته کړې ده. چین ته د افغانستان د جلغوزیو صادراتو د افغان بزګرانو او سوداګرو په عاید کې د پام وړ زیاتوالی راوستلی دی. همدارنګه له دغو جلغوزیو څخه چینایان هم ډېر خوشاله دي. افغان سوداګرو ما ته وویل چې د افغانستان بهرنۍ سوداګري تر ډېره له چین سره تړلې ده او له ۳۰۰ ډېر افغان شرکتونه او له ۷۰۰ ډېر افغان سوداګر د سوداګرۍ په موخه همدا اوس په چین کې مېشت دي.

د افغانستان او چین تېرې ۶۵ کلنې اړیکې ډېرې ګټورې او له خوښۍ ډکې وې، همدارنګه راتلونکي ته په کتو، د دغو اړیکو د لا غوړېدو او پراختیا هیله لرو.

موږ تمه لرو چې د دواړو هېوادونو تر منځ نږدې همکاري به په افغانستان کې د سولې د رامنځ ته کېدو او د اقتصادي او ټولنیزو چارو د ودې او غوړېدو لامل شي. چین چمتو دی چې د افغانستان د سولې پروسې له بریالیتوب وروسته د یاد هېواد په اقتصادي وده کې فعاله ونډه واخلي. چین به د یو کمربند او یوې لارې په چوکاټ کې له افغانستان سره مرسته وکړي، څو د اسیا د زړه په توګه له خپل جغرافیایي موقعیت څخه خوند واخلي او اقتصادي بسیاینې ته ورسېږي.

موږ تمه لرو چې د کووېډ- ۱۹ وبا له تیارې څخه د وتلو لپاره د دواړو هېوادونو تر منځ همغږي به نوره هم پیاوړې شي. موږ هڅه کوو چې له کرونا سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان سره د مرستې په پار دغه هېواد ته شپږمه مرستندویه بسته هم ولېږو. موږ همدارنګه هڅه کوو چې د پرسونل د تبادلې لپاره (چټکې لارې) او د سوداګریزې تبادلې لپاره (شین چینل) فعال کړو او په دې سره د دواړو لورو تر منځ تبادلات زیات کړو.

موږ تمه لرو چې د دواړو ملتونو تر منځ دوستي نوره هم ژوره شي او له یوه نسل څخه بل ته یې لېږد دوام وکړي. موږ غواړو چې د دواړو لورو د حکومتونو، پارلمانونو، فکري سازمانونو، رسنیزو بنسټونو، ځوانانو او ښځو تر منځ راکړه ورکړه او د نظریو تبادله نوره هم ډېره او پراخه شي، څو په دې سره د دواړو ملتونو تر منځ متقابل درک او دوستي پیاوړې شي.

د چین او افغانستان تر منځ له دوو زرو څخه د زیاتو کلونو تبادله دا په ډاګه کوي چې دواړه هېوادونه په حقیقت کې ښه ګاونډیان، ښه وروڼه، ښه ملګري او ښه شریکان دي چې یو بل ته متقابل احترام لري او له یو بل سره مرسته کوي. راځئ چې یو بل ته د ښو اړیکو لپاره لاسونه سره ورکړو او د بشر لپاره د ګډ برخلیک ټولنه جوړه کړو.

## ډاکټر عبدالله عبدالله: ملا برادر ته مې ویلي، که افغانستان ته سوله راولو، نو رښتیني اتلان به موږ وو



د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله پاکستان ته د خپل سفر پر دویمه ورځ له ګڼو پاکستاني چارواکو سره لیده کاته درلودل. تر ډېره یې له دوی سره پر افغان سولې، دوه اړخیزه اړیکو او امنیتي مسایلو خبرې لرلې دي. نوموړي د پاکستان د ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکز کې وینا هم وکړه او تر ډېره یې تمرکز د افغانستان پر سوله او امنیت و. ډاکټر عبدالله ټینګار وکړ چې افغان سوله د ټولې سیمې لپاره مهمه ده او یو ځل بیا یې له طالبانو وغوښتل چې د جګړې په ختمولو دې د افغانانو هیلې پوره کړي.

د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د یوه لوړپوړي پلاوي په ملتیا پاکستان ته تللی دی. پرون یې د سفر دویمه ورځ وه او په دې لړ کې یې د پاکستان له مهمو لوړپوړو چارواکو سره لیدنه لرله. په لومړۍ ورځ یې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر محمود قریشي سره وکتل او پرون یې بیا د پاکستان د سنا جرګې له مشر او د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره هم لیدنه لرله.

د پاکستان د ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکز کې یې وینا وکړه او تر ډېره یې وینا پر افغان سوله او د پاکستان افغانستان پر اړیکو متمرکزه وه. ډاکټر عبدالله وویل چې افغانستان په یوه حساسه مرحله کې دی او د سولې راتګ ته سخته اړتیا لري. د ده په خبره، افغان حکومت د سولې ملاتړی دی او په دې برخه کې د ټولو هېوادونو او ګاونډیانو همکاري اړینه ده. نوموړي وویل، طالبانو ته یې په واضح توګه ویلي چې که بریالي شوو چې افغانستان ته سوله راولو، نو راتلونکي اتلان به موږ وو. د ده په خبره: ((ما مخامخ او په واضح الفاظو ملا برادر ته په خطاب کې وویل چې که موږ افغانستان ته سوله راولو، جګړه ختمه کړو، نو د تاریخ اتلان به وو، رښتیني اتلان به موږ وو چې جګړه ختموو)).

ډاکټر عبدالله عبدالله د افغانستان او پاکستان پر دوه اړخیزو اړیکو هم خبرې وکړې او د سولې په برخه کې یې د پاکستان همکاري اړینه او مهمه وبلله. نوموړي وویل، پاکستان تر دې دمه له افغان سولې سره همکاري کړې ده او د دغه هېواد لا ډېرې رښتیني همکارۍ به ټولې سیمې ته ثبات راولي. هغه وویل، د سولې لار له سختو خنډونو ډکه ده، ځکه دومره اوږده جګړه ختمول به ارو مرو اوږدو خبرو ته اړتیا لري نو له همدې امله پورې حوصلې ته اړتیا ده. د ده په وینا: ((د سولې خبرې په حوصله مخ ته وړل کېږي، پوره حوصله به کوو، ما خلک حوصله من بولي، خو په دې ملي مسئله کې خورا ډېرې حوصلې ته اړتیا ده)).

د ملي مصالحې عالي شورا مشر د سولې په اړه خپل دریځ په واضح توګه بیان کړ او په خبره یې، د افغانستان سوله د ټولې سیمې لپاره ګټوره ده او هېچا ته به اجازه ور نه کړل شي چې افغان خاوره د نورو پر ضد وکاروي. د ده په خبره، د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته هم په کار ده چې په خپلو خاورو کې چا ته د افغانستان ضد فعالیتونو د ترسره کولو اجازه ور نه کړي.

د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله دغه راز د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره په لیدنه کې هم د سولې اړوند خبرې کړې دي او د پاکستان د سنا له مشر سره یې بیا پر دوه اړخیزو اړیکو او همکاریو بحثونه کړي دي. دواړو لورو ټینګار کړی چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ باید سوداګریزې اړیکې پراخې شي او دا مسئله به ددې سبب شي چې افغانستان او پاکستان دواړه وده وکړي.

له دې سفر سره هممهاله پاکستان له افغانستان سره خپلې پولې په اونۍ کې درې ورځې پرانیستې دي. دا لارې د کرونا ویروس د پراختیا له امله تړل شوې وې. اوس په اونۍ کې درې ورځې خلک پر دې لارو تګ راتګ کولی شي او پاکستان ویلي چې افغانان ته به د وېزې د ورکړې لړۍ هم ډېره ژر پیل کړي.

## مک ماسټر: له طالبانو سره د مذاکراتو په برخه کې د سپینې ماڼۍ تګلاره ناسمه ده




د ټرمپ د ملي امنیت پخواني سلاکار مک ماسټر په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي چې طالبان له القاعده شبکې سره اړیکه لري، په افغانستان کې جګړې کوي او ټرمپ د یوې ناکامې تګلارې پر مټ له دغه ډلې سره مذاکرات پیل کړي دي.

د ده په خبره، د ټرمپ او سپینې ماڼۍ اوسنۍ تګلاره له طالبانو سره د خبرو په برخه کې ناکامه او ناسمه ده. مک ماسټر د ټرمپ اداري ته نږدې کس پاتې شوی، خو د ځینو مسایلو پر سر تر اختلافونو وروسته یې له خپلې دندې استعفا وکړه. په دې وروستیو کې په افغانستان کې د ټرمپ او سپینې ماڼۍ پر تګلارو او پلانونو له سترو منتقدینو دی او روان وضعیت د امریکا د ملي امنیت په زیان بولي.

دا په داسې حال کې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوي تړون له مخې به تر راتلونکي کال پورې ټول امریکایي سرتېري له افغانستانه وځي او په بدل کې یې طالبانو ژمنه کړې چې له القاعده او نورو ترهګرو ډلو سره به اړیکې پرې کوي او اجازه به نه ورکوي چې د افغان خاوره د امریکا او د یاد هېواد د نورو متحدینو په خلاف نه کارول کېږي.

خو که څه هم له افغانستان د امریکایي او نورو بهرنیو هېوادونو د سرتېرو د ایستلو لړۍ روانه ده، خو یو شمېر اوسني او پخواني امریکایي چارواکي تور پورې کوي چې طالبان لاهم د خپلې ژمنې خلاف له القاعده شبکې سره اړیکې پالي او د سولې تړون ته ژمن نه دي، خو طالبانو بیا دا ادعاوې رد کړي او ټینګار کوي چې دوی له خپله اړخه تړون ته ژمن دي او امریکا دې هم خپلې ژمنې پرځای کړي.

## نړیوال بانک: له افغانستان سره د اقتصادي پیاوړتیا په موخه سل میلیونه ډالره مرسته کوو

نړیوال بانک له افغانستان سره د اقتصادي پیاوړتیا په موخه د ۱۰۰ میلیونه ډالرو مرستې اعلان کړی دی.

په افغانستان کې د نړیوال بانک مطبوعاتي دفتر له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د بانک د مدیره پلاوي له خوا په افغانستان کې د مالي سکتور د ثبات او له کوچنیو سوداګریزو فعالیتونو څخه د ملاتړ لپاره ۱۰۰ میلیون ډالره نوې مالي مرسته په داسې حال کې تصویب شوه چې اوسمهال دغه هېواد د کوویډ-۱۹ ویروس له ناوړه اقتصادي اغېزو څخه راوځي.

سرچینې زیاته کړې، دغه وړیا مالي مرسته د نړیوالې پراختیا اداري له خوا چې د نړۍ له خورا بېوزلو هېوادونو سره د نړیوال بانک د مرستو یوه برخه ده، چمتو شوې او ټاکل شوې چې د افغانستان د مالي سیستم د پیاوړتیا پروژې له لارې د افغانستان بانک د ظرفیت لوړونې او د مالي مقرراتو په پلي کېدو کې د دغه بانک د څارونکي رول پیاوړې کولو او په دې برخه کې د اسانتیاوو برابرولو لپاره ولګول شي.

په خبرپاڼه کې راغلي، دا پروژه به په ځانګړې توګه له افغانستان سره مرسته وکړي، څو د بیمې لپاره د تضمین سیستم، یو شمېر مالي سیستمونه؛ لکه، د پورونو او عامه اعتباراتو ثبت، د وثایقو او رهني حقوقو ثبت تقویت کړي او په (د افغانستان بانک) کې به د معلوماتي ټکنالوژۍ سیستم په یوه پرمختللي او مډرن سیستم واړوي.

د سرچینې په وینا، د دې پروژې تطبیق به د افغانستان د مالي نظام ثبات پیاوړی کړي او د مالي منځګړیتوب په برخه کې به یو شمېر اسانتیاوې رامنځته کړي.

نړیوال بانک ویلي، دا پروژه به له مالیې وزارت سره مرسته وکړي، څو د کوچنیو او منځنیو شرکتونو لپاره یو شمېر اسانتیاوې د پورونو او مالي سرچینو په برخه کې رامنځته کړي او په دې توګه به له هغوی سره تخنیکي مرستې زیاتې شي.


اوسمهال په افغانستان کې له نیمایي زیات کوچیني او منځني تشبثات او سوداګریز




کسب او کارونه د کمزوري اقتصادي سیستم، د کوویډ-۱۹ ویروس د خپرېدو له امله د کرنتین د اقداماتو او د کړکېچن امنیتي او سیاسي وضعیت له امله تر فشار لاندې دي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک رییس، هینري کرالي وایي: «په داسې حال کې چې د افغانستان اقتصاد د کوویډ-۱۹ ویروس د منفي اغېزو څخه غواړي ځان را اوباسي، د دې هېواد د مالي سکتور پیاوړتیا د دغه بهیر په چټکتیا کې مهمه ونډه لوبولی شي.»

## ملګري ملتونه: ارمنستان او اذربایجان دې ژر تر ژره روانه جګړه او تاوتریخوالی بند کړي



د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتربش له ارمنستان او اذربایجانه غوښتي چې په نګورنو قره باغ سیمه کې ژر تر ژره تاوتریخوالی ودروي.

دا په داسې حال کې ده چې په جنوبي قفقاز کې د ارمنستان او اذربایجان ترمنځ نښتې په خونړۍ جګړې بدلې شوې او ګڼه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

دا په تېرو څلورو کلونو کې لومړی ځل دی چې په دې نښته کې د سیمه‌ییزو ځواکونو ترکیې او روسیې د ښکېلتیا خطر زیات شوی دی.

په ورته وخت کې د اذربایجان ولسمشر الهام علییف د نیم پوځ د خوځښت خبر ورکړی دی. نوموړي د یاد هېواد په پلازمېنې باکو کې ویلي چې د جګړې له پیل راهیسې د یوې کورنۍ د پنځو غړو په ګډون شپږ اذري وګړي وژل شوي او ۱۹ ټپیان شوي دي.

په ورته وخت کې نړیوالو سازمانونو او هېوادونو هم په چټکۍ سره دې جګړې ته غبرګون ښودلی او د روسیې، امریکا او ملګرو ملتونو په ګډون اروپایي هېوادونو له دواړو لورو د اوربند او مذاکراتو د پیلولو غوښتنه کړې ده.

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي انتونیو ګوتربش ویاند سټیفان دوجاریک ویلي: «عمومي منشي پر دواړو لورو غږ کړی چې په چټکۍ سره جګړه ودروي او ترینګلی وضعیت عادي کړي او معنی لرونکو مذاکراتو ته پرته له ځنډ او شرطه ستانه شي.»

په ورته وخت کې په ستیپاناکیرت او یریوان کې نظامي چارواکو ویلي چې د دوی ۵۹ پرسونل وژل شوي او تر ۲۰۰ نور یې وروسته له هغه ټپیان شوي چې اذربایجان هوایي او راکټي حملې پیل کړې دي.

د اذربایجان دفاع وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې ارمنستاني ځواکونه له نګورنو قره‌باغ سره په ګاونډ کې پر تارتار ښار باندې ګڼ توغندي ویشتلي دي. د راپورونو له مخې، دواړو لورو د لومړۍ ورځې په جګړه کې له ټانکونو، توپخانې، هلیکوپټرو او بې‌پیلوټه الوتکو استفاده کړې ده.

د یادونې ده چې په نګورنو قره‌باغ سرحدي سیمه کې له کلونو راهیسې نښتې روانې وې. دا د اروپا تر ټولو اوږده جګړه ګڼل کېږي چې له کلونو راهیسې د ارمنستان او اذربایجان ترمنځ پر سرحدي سیمه دوام لري.

د روان کال په جولای میاشت کې هم د دواړو خواوو ترمنځ نښتو څو ورځې دوام وکړ چې پکې د بې‌پیلوټه الوتکو او درنې توپخانې حملې شاملې وې. په هغو نښتو کې دواړو لورو ته ۱۷ کسان ووژل شول چې ډېری یې سرتېري وو.

خو اوسنی تاوتریخوالی تر عادي نښتو زیات شوی او د ارمنستان او اذربایجان چارواکو دا نښتې جګړه بللې او یو پر بل یې د دې جګړې د پیلولو تورونه پورې کړي دي.

په ورته وخت کې د بشري حقونو اروپایي محکمې ویلي چې د ارمنستان حکومت ورڅخه غوښتي چې اذربایجان ته چټک لارښوونه وکړي چې پر ملکیانو حملې ودروي او په ارمنستان او نګورنو قره‌باغ سیمه کې د ملکیانو د استوګنځایونو پر لور نظامي پرمختګ ودروي.

## د کتـاب خبـري

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

© لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

## لومړی فصل
### دڅېړنې کلیات



**هـ- د افغانستان په اړه د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانسونه(ریکا):**
**:(Regional economic cooperation conferences on Afghanistan (RECCA**

په ۲۰۰۱ زکال کې دطالبانو دواکمنۍ له ړنګېدو وروسته د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه په دې کې پاتې راغلل چې د افغانستان خلکو ته کاري فرصتونه رامنځته کړي،د بې کارۍ او اقتصادي ستونزو له امله ډېر افغان ځوانان له توندلارو ډلو سره یو ځای کېدل او اقتصادي ستونزې او بې کاري په افغانستان کې د جګړې یو مهم لامل ګڼل کېږي د افغانستان مشران او نړیوال دې پایلې ته رسیدلي وو چې د سیاسي او امنیتي برخو ترڅنګ باید د افغانستان اقتصادي ودې او پرمختګ ته هم لازمه پاملرنه وکړي او په دې اړه د سیمې د هېوادونو ملاتړ او همکاري ترلاسه کړي .په همدې موخه د ۲۰۰۵ زکال په ډسمبر کې د افغانستان حکومت او د نړیوالې ټولنې د هڅو په پایله کې د افغانستان په اړه د سیمه‌ییزو اقتصادي کنفرانسونه(ریکا) کنفرانسونه پیل شول . ریکا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره د خبرو او بحث زمینه برابره کړې د دې ترڅنګ د ریکا کنفرانسونو د سترو اقتصادي پروژو د تطبیق، د سیمه‌ییزې سوداګرۍ له پراختیا، د اقتصادي لومړیتوبونو له پېژندلو، د انرژۍ لپاره د یو سیمه‌ییز مارکېټ رامنځته کولو، د سوداګریزو او ترانزیټي لارو له جوړولو، د ګمرکي اصلاحاتو او د خصوصي سکتور او سوداګروو ترمنځ د اړیکو او همکاریو له پراختیا سره ډېره مرسته کړې .

ریکا د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او د جنوب ختیځې اسیا د بهرنیو چارو او اقتصاد وزیرانو لپاره د دې زمینه برابره کړه، چې له خپلو افغان همکارانو سره په ګډه د سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو او پانګونې په اړه خبرې وکړي او په دې اړه پالیسۍ جوړې کړي .د بیلګې په توګه د کاسا ۱۰۰۰ پروژه چې له افغانستان څخه به تېرېږي، هر کال به افغانستان له یادې پروژې ۱۷۵ میلیون ډالر ترلاسه کوي او ۱۰۰۰۰۰ کسانو ته به د کار زمینه برابروي دریکا کنفرانسونو په پایله کې رامنځته شوه کاسا ۱۰۰۰ پروژه به افغانستان له اقتصادي پلوه له قرغزستان، پاکستان او تاجکستان سره ونښلوي .همدارنګه له افغانستان سره مرسته کوونکو هېوادونو هغو پروژو سره مرسته او همکاري کړې چې د ریکا د غړو هېوادونو له لوري د لومړیتوبونو په توګه معرفي شوي دي . د حکومتي چارواکو ترڅنګ د ریکا په غونډو کې د ریکا غړو هېوادونو د خصوصي سکتور استازو او کار پوهانو هم ګډون کړی دی .

د ۲۰۱۸ زکال د نومبر پر ۱۴مه او ۱۵مه د ترکمنستان په عشق اباد کې د ریکا اوومه غونډه جوړه شوه، د ریکا د غونډې هدف په زېربنایي پروژو کې د پانګونې له لارې سیمه‌ییز نږدېوالي او سوداګرۍ ته پراختیا ورکول و. په همدې غونډه کې په سیمه کې د ۱۸ سترو سیمه‌ییزو پروژو په اړه بحث وشو او ټولو لورو ومنله چې یادې پروژې به مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او جنوب ختیځه اسیا سره نږدې او وصل کړي .

**۱ـ د ریکا د پیاوړتیا ټکي**

د ریکا کنفرانسونو له لارې د افغانستان د اقتصادي لومړیتوبونو په اړه چې د مرکزي او جنوبي اسیا هېوادونو لپاره هم لومړیتوب لري د خبرو او بحثونو لپاره زمینه برابره شوه او د دغو خبرو اترو تراوسه پورې دوام پیدا کړ. له ۲۰۰۵زکال راهیسې ریکا د سیمه‌ییزې همکارۍ په تړاو هر اړخیزه تګلاره درلوده چې له مخې یې د ریکا غړو هېوادونو مشرانو هڅه کوله چې د حکومتونو، نړیوالو ادارو، پوهانو، سوداګرو اود مدني ټولنې له سرچینو او ملاتړ څخه استفاده وکړي.همدارنګه د خصوصي سکتور نندارتونونو او د پالیسۍ چوړولو په پروسه کې د سوداګرو د ګډون له لارې ریکا د خصوصي پانګونې لپاره نوي فرصتونه رامنځته او برابر کړي دي. د ریکا غړو هېوادونو لپاره ډېره مهمه ده چې د سیمه‌ییزې پانګونې پروژو او د پالیسیو د لومړیتوبونو چې په اړه یې ژمنه شوې تطبق ته جدي او دوامداره پاملرنه وکړي، د پانګونې هغه سیمه‌ییزې پروژې چې مشخصې شوې، له اقتصادي پلوه ارزیابي کړي، او د استانبول پروسې او نورو سیمه‌ییزو سازمانونو، لکه سارک او ایکو سره نږدې همکاري رامنځته کړي .


**۲ـ د ریکا پروړاندې پرتې ستونزې**

د ریکا کنفرانسونو پروړاندې ځینې ستونزې هم پرتې دي، د نویو او علمي معلوماتو او شمېرو نشتون، د پروژو د تطبیق په اړه د ابتدایي مطالعاتو په اړه د مسلکي ظرفیت نشتون، د بودیجې او مصارفو پیدا کولو لپاره د یو فعال میکانیزم نشتون، د اقتصادي اغېزو او پایو د څارنې په اړه د قوي رهبریت نشتون، د استانبول پروسې، کریک، سارک او له نورو سیمه‌ییزو سازمانونو او شبکو سره کمزورې اړیکې او د پروژو په اړه د یوې ویب پاڼې نشتون د ریکا کنفرانسونو په وړاندې جدي ستونزې دي .

ریکا کومه اداره، بنسټ او سازمان نه دی او اداري تشکیلات او دارالانشاء هم نه لري، دویمه ستونزه د پانګونې په برخه کې د خصوصي سکتور کمزوری رول دی، دریمه ستونزه د اقتصادي دقیقو شمېرو، تحلیلونو اومطالعاتو نشتون دی، څلورمه ستونزه د پروژو د ابتدایي مطالعاتو په اړه ټیټ ظرفیت دی، د ډېرو پروژوملاتړ دولتونو له لوري کېږي، نه د خصوصي سکتور له لوري، د کارونو، پروژو او پرمختګونو د ارزیابۍ په برخه کې ستونزې هم شته. **دوام لري...**

# موسی شفیق له مدرسې تر صدارته

اکسوس کتابپلورنځي



شهید موسی شفیق د افغان روښانفکرۍ او معاصر فکري تاریخ نوموتې څېره ده. ستر خالق پر شفیق سیاسي بصیرت، دیني پوهه او تقوی پېروز کړې وه.

هغه عرفان، حنفي فقه او د بخارا او سمرقند تجربې او د لوېدیځې نړۍ سیاسي زده کړې داسې سره ترکیب کړې، چې په پایله کې یې پر سیاسي او ټولنیزه منځلارې څېره بدل شو او د ډېرو افغاني سیاستوالو په څېر د افراط او تفریط ښکار نه شو. نه سلفیت او نه هم د وهابیت په لومو کېښوت، او نه هم دودیزو خرافاتو ته پاتې شو. نوموړی د اسلامي، شرقي او غربي پوهې یو عظیم ترکیب دی او عمیق فکر یې د متفاوتو زده کړو او تجربو نتیجه ده.

هغه اشرافي ریښې نه درلودې، مګر پر افغانستان کلک باور او د وطن د خدمت کلک هوډ د سیاست لوړو ته ورساوه. هغه د افغانستان په سیاسي اډانه کې درې میراثه پرېښې دي: د وطن د مالکیت احساس، د وطن محوره فکر او عمل. نوموړی باوري و چې همدا درې میراثونه کولای شي افغانستان له سیاسي بدمرغیو راوباسي.

هغه د اسیا په مدرسه کې استاد و او غوښتل یې چې د سیمې تحولاتو ته د افغانستان له ادرسه ځواب پیدا کړي. نوموړي هیله درلوده چې افغانستان په سیخه لار روان کړي، خو د حاکم وخت عجولانه پرېکړو او افغانستان ته د زبرځواکونو ناکاره ارادو د شفیق ملي هیلې مړاوې کړې.

ان ویل کېږي چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د یرغل یو لامل د موسی شفیق پروګرامونه وو، که شفیق او پاچا دواړه پاتې وی، بیا نو روسانو او د دوی پلویانو دا وخت نه شواى پیدا کولی، چې پر افغانستان برید وکړي.

شفیق هیله درلوده چې سیاسون د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي، هغه غوښتل چې د افغانستان کورنی او بهرنی سیاست پر تحرک راولي. هغه د تقابل پر سیاست باور نه درلود او هڅه یې کوله چې د هیواد د پرمختګ او سیاسي ټیکاو لپاره له سترو زبرځواکونو لکه روسیې او امریکا سره فلسفي تفاهم ته ورسېږي. له ګاونډیانو سره د مشترکو ګټو درک هغه مسئله وه، چې شفیق پرې باور درلود، په همدې موخه یې پر ډېرو فشارونو سربېره، له ایران سره د هلمند اوبو په اړه سخته؛ خو بریالۍ معاهده وکړه.

شفیق څو بعدي شخصیت درلود او د خپل فکري انسجام په برکت یې د افغانستان لپاره لوی کارونه وکړل. شفیق پر ولسواکۍ کلک باور درلود او د ولسواکۍ د تحقق لپاره د نوموړي کلک هوډ او هڅې د دې لامل شوې چې د اساسي قانون او ډیموکراسۍ په لسیزه کې د یو اغېزناک شخص په توګه مطرح شي.

جنایتکارانو موسی شفیق ترور کړ او افغان ملت یې د نوموړي له معتدله او منځلارو علمي او سیاسي پروګرامونو څخه بې برخې کړ. شفیق داسې مهال له افغان ملت څخه واخیستل شو، چې د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره یې د هیلو تازه غوټۍ پرانیستل شوې وې. نوموړي د هیواد په کچه له ملي مسئلو سره عقلاني برخورد کاوه او همدې ټکي باوري کړی و، چې هڅې به یې افغانستان ته سیاسي ثبات ور وبښي.

د شهید موسی شفیق د شخصي ژوند، زده کړو، کاري تجربو او د هیواد په اړه د هغه له پروګرامونو په همدې کتاب کې ډېر څه زده کولای شی.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | چگونه زن باشیم؟ | کیتلین موران/افسانه مقدم | ۲۷۰؋ |
| ۲ | بازی زندگی | فلورانس اسکاول شین | ۲۳۰؋ |
| ۳ | د مدیریت بنسټونه او اصول | عبدالطیب الرحمانی/محمد بشیر دودیال | ۲۰۰؋ |
| ٤ | جغرافیای انسانی افغانستان | محمد عظیم عظیمی | ۳۰۰؋ |
| ٥ | احمق ها هم رویا دارند!!! | حامد سلیمی | ۱٦۰؋ |
| ٦ | جزا شناسی | حفیظ الله دانش | ۲۳۰؋ |
| ۷ | د ۳۹٦٦ مدیریتی پوښتنو بانک | زاهدالله احمد | ۳۸۰؋ |
| ۸ | د ملکي خدمتونو بستونو لپاره ۱۱۰۰ مدیریتي پوښتنې | زاهدالله احمد | ۱۳۰؋ |
| ۹ | د څېړنې میتودولوژي | نثار احمد مصلح | ۲۰۰؋ |
| ۱۰ | مبین جمهوریت | عبدالهادي احمدزی | ۱۲۰؋ |
| ۱۱ | فارمکولوژی و تداوی دوایی | احمد فرید دانش | ۲۷۰؋ |
| ۱۲ | افکار عامه و تحول آن در افغانستان | میرعزیزاحمدفانوس | ۱٥۰؋ |
| ۱۳ | سیاست پوهنه | فرهاد داوري | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | The Perks of being a wallflower | Stephen Chbosky | ۱۳۰؋ |
| ۱٥ | 1984 | GEORGE ORWELL | ۱۷۰؋ |
| ۱٦ | چرا ملت ها شکست می خورند؟ | دارون عجم اوغلو، جمیز ای رابینسون/ محسن میردامادی، محمدحسین نعیمی پور | ۳۸۰؋ |
| ۱۷ | ۳۳استراتیژی جنگ | رابرت گرین/فاطمه باغستانی | ٥۰۰؋ |
| ۱۸ | سیمه ییزه حکومتداري | نورعلی خرگند | ۱۸۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان ډیپلوماټیک او سیاسي تاریخ | محمد حسن کاکړ/نسیم سلیمي | ۲۷۰؋ |
| ۲۰ | فزیک عمومی | حسن خان اخلاص | ۲٥۰؋ |
| ۲۱ | د ادب د تیورۍ اساسونه | دوست شینواری | ۲۰۰؋ |
| ۲۲ | د سبک پېژندنې مېتودولوژي | اتل مشوانی | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | محاسبه مالیاتی در افغانستان | سید مسعود | ۱۷۰؋ |
| ۲٤ | اسلام او نوي ساینسي څېړنې | عبدالغفار جبیر | ۱۳۰؋ |
| ۲٥ | درې پېړۍ په نړۍ او افغانستان کې د کرکټ تاریخ | محمد جعفر هاند | ۲٤۰؋ |
| ۲٦ | روش تحقیق | محمد نعیم عظیمی | ۲٤۰؋ |
| ۲۷ | اصول محاکمات جزایی افغانستان | محمد تواب منان | ۲٥۰؋ |
| ۲۸ | منټو لنډې کیسې | سعادت حسن منټو/منتشرشاهي | ۱٤۰؋ |
| ۲۹ | ایگزیټ بینک | احمدالله عزیزي، فرهاد نوري | ۳۸۰؋ |
| ۳۰ | د علی بابا نړۍ | پورتر اریسمن/محمدحامد اکبري | ۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۹,۱۰ |
| Rp. | ٤٦٧ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۸,۱۰ |

### بېړنی شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# د پاکستان- هند اړیکې او پر افغان سوله یې اغېز

ضیاءالاسلام شېرانی

پاکستان او هند په سیمه کې د یو بل دوه سرسخته مخالف ګاونډیان دي. دواړه هڅه کوي چې په سیمه کې د یو بل د نفوذ مخه ډب کړي. د دې دواړو هېوادونو رقابتونه او نیابتي جګړې د افغانستان پر وضعیت مستقیم اغېز لري. هند او پاکستان دواړه په افغانستان کې د یو بل له نفوذ نه وېره لري. له همدې کبله د هند له ازادۍ او د پاکستان له رامنځ ته کېدو وروسته، افغانستان ته د دې دواړو هېوادونو په بهرني سیاست کې یو ځانګړی او مهم ځای ورکړل شوی. دواړه هېوادونه هڅه کوي چې په افغانستان کې د دوی د خوښې یا هم لږ تر لږه داسې یو حکومت رامنځ ته شي، چې د دوی پلوی وي.

په دې لیکنه کې هڅه شوې چې د پاکستان- هند د اړیکو تر څنګ، د پاکستان او هند په هغو موخو او ګټو خبرې وشي چې دغه دواړه هېوادونه یې په افغانستان کې لري. همدارنګه پر دې هم بحث شوی چې د دواړو هېوادونو رقابتونو پر افغان جګړه څه اغېزې لرلې دي.

**د پاکستان- هند اړیکې**

په ۱۹٤۷ م کال کې د لوی هندوستان تر تقسیم او پاکستان تر جوړېدو وروسته، د هند او پاکستان تر منځ په تېرو ۷۳ کلونو کې درې خونړۍ جګړې او څو شخړې رامنځ ته شوې دي. دغه جګړې او شخړې تر ډېره د کشمیر پر سر وې؛ خو د کشمیر قضیه لا هم یوه ناحل او لانجمنه قضیه پاتې ده، د کشمیر په لانجمنه سیمه کې خلک د پاکستان او هند د سختدریځو ډلو سره په لوی سرخوږي او جنجال اخته دي.

پاکستان او هند د سیمې دوه ستر او اټومي وسلو لرونکي هېوادونه دي، د دې دواړو هېوادونو تر منځ ترینګلې اړیکې او تاوتریخوالی په مستقیم ډول د سیمې د نورو هېوادونو پر وضعیت اغېز لري. د تاریخ په اوږد کې د دغو هېوادو تر منځ هر رامنځ ته شوي تاوتریخوالي د سیمې پر سیاسي، امنیتي او اقتصادي وضعیت سیوری غوړلی دی.

د بېلګې په توګه، کله چې د ۲۰۱۹ م کال د فبرورۍ په ۱٤مه د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې ٤٥ هندي پوځیان په یوه موټربم برید کې ووژل شول، هند یې پړه پر پاکستاني پوځ او استخاراتو واچوله او د دواړو هېوادونو تر منځ تاوتریخوالی رامنځ ته شو. په دغه لړ کې د پاکستان د هوایي چلند اداري له خپل فضایي حریم څخه د ټولو تېرېدونکو الوتکو پر تګ بندیز ولګاوه. دغه چارې له یوې خوا هوایي شرکتونو او سوداګرو ته لوړ مالي زیانونه واړول او له بلې خوا یې د سلګونو کسانو په سفر کې ځنډ رامنځ ته کړ او خلکو ته یې ستونزې جوړې کړې.

**له افغانستان سره د هند او پاکستان اړیکې**

افغانستان او هند لرغونې اړیکې لري. دغه اړیکې د لوی هندوستان له تقسیم وړاندې د غوري او غزنوي حکومتونو دوران ته رسېږي. یانې دواړه هېوادونه له پخوا په اړیکه کې پاتې شوي دي، هغه که د یرغل په بڼه وو، یا مذهبي اړیکې وې او یا هم که پر یو بل حکومت کولو.

په ۱۹٤۷ م کال کې د هند له ازادۍ وروسته، افغانستان او هند د نهرو- داوود- ناصر د ناپیيلي غورځنګ له امله، یو بل ته نږدې شول. دواړو هېوادونو تر ۱۹۷۹ م کال پورې له یو بل سره ډېرې ښې اړیکې درلودې. د ډیورنډ کرښې او پښتونستان د قضیې پر سر د کابل او اسلام آباد مخالفت او له بله اړخه د کشمیر پر سر جګړې او تربګنۍ، همدارنګه دناپیيلتیا غورځنګ هغه لوی موارد ګڼل کېږي، چې د افغانستان او هند اړیکې یې ډېرې ښې ساتلې وې.

پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل سره هند ورو ورو په افغانستان کې خپل ځای له لاسه ورکاوه. خپله د هندي شنونکو په اند چې د جهاد په دوران کې (۱۹۷۹ تر ۱۹۸۹م ) هند په افغانستان کې د خپل بهرني سیاست په برخه کې سخته ماتې وخوړله او بالمقابل پاکستان په لومړي ځل چانس تر لاسه کړ، چې د افغانستان اړوند د ځان په ګټه بهرنی سیاست ولري.

له افغانستانه د شوروي یرغلګرو ځواکونو له وتلو وروسته بیا تر ۲۰۰۱ م کال پورې، هغه پړاو بلل شوی دی چې دواړه هېوادونه په افغانستان کې د یو بل نفوذ کمولو په موخه ګرمه سیالي پیلوي. په دغه پړاو کې پاکستان هغه څه په پوره توګه نشي ساتلی، چې د جهاد په دوران (۱۹۷۹ تر ۱۹۸۹م) کې یې تر لاسه کړي وو. په دغو کلونو کې هند د شمالي ټلوالې ملاتړ کاوه. له ۲۰۰۱ م کال را وروسته بیا تر اوسه په تېرو دوو لسیزو کې هند د خپل نرم ځواک له لارې په افغانستان کې خپلو موخو ته پوره کار کړی، هند توانېدلی چې د خپلو پراخو مرستو پر مټ د زیاتره افغانانو زړونه وګټي.

**په افغانستان کې د هند ګټې او اندېښنې**

افغانستان د ځمکې د کُرې په یوه ډېره ستراتېژیکه برخه کې موقعیت لري، له همدې امله ده چې خلک یې کله د سوېلي آسیا له هېوادونو څخه بولي، کله یې د منځنۍ ختیځ برخه ګڼي او کله یې بیا د منځنۍ آسیا یوه منل شوې برخه بولي. د افغانستان دغه ستراتیژیک موقعیت دومره ارزښتناک دی، چې په سیمه کې د ځواک محوري نکته ګرځېدلی شي. همدارنګه په افغانستان کې د درې تریلیونو ډالرو په ارزښت د کانونو موجودیت، د نړۍ د سترو قدرتونو لپاره د افغانستان ارزښت نور هم زیات کړی.

هند په سیمه کې یو مهم او ستر هېواد دی، په وروستیو لسیزو کې هند په منځنۍ اسیا کې د خپلو ګټو د خوندي کولو او همدارنګه د نړیوالو ځواکمنو هېوادونو په کتار کې درېدلو لپاره هڅې کوي. د هند لپاره د همدې ګټو د خوندي کولو په موخه پر افغانستان نفوذ درلودل او له افغانستان سره ستراتیژیکه ملګرتیا ارزښت لري.

له ۱۹۷۹ م کال مخکې افغانستان او هند ښه ملګرتیا درلوده، ځکه تر همدې کال پورې په افغانستان کې هر رامنځ ته شوی حکومت د پاکستان خلاف و، ډېری وخت یې د پښتونستان د مسئلې او د پښتنو د حقونو پر سر له پاکستاني حکومتونو سره شخړې او لانجې کړې دي؛ خو د شورویانو له یرغل او افغان جهاد له پیلېدو سره، پاکستان د افغان جهادي ډلو ترشا ودرېد او جهادي ډلې یې د خپل ستراتېژیک عمق د تر لاسه کولو په موخه وکارولې.

هند په افغانستان کې د پاکستان له ستراتېژیک عمق څخه اندېښنه لري او غواړي په افغانستان کې د پاکستان ستراتېژیک عمق خنثی او کله هم پاکستان ته اجازه ورنه کړي چې په افغانستان کې په پښو ودرېدلی شي. له همدې کبله په افغانستان کې د هند تګلاره اصلاً د پاکستان خلاف د پالیسۍ یوه مهمه برخه ده. هند په افغانستان کې د بنسټ پاله او جهادي ډلو له واک ته رسېدو وېره لري، نه غواړي چې په افغانستان کې د مجاهدینو او یا هم د طالبانو په شان حکومتونه رامنځ ته شي. زیاتره هندي شنونکي په دې اند دي چې یو داسې افغانستان چې د مذهبي بنسټ پالو واکمني/ خپرېدا پکې وي؛ یوازې د پاکستان لپاره اړین دی، چې کولای شي له دې لارې بیا په کشمیر کې پر هند فشار راوړي.

هندوستان د تېرو شلو کلونو په جریان کې له افغانستان سره تر دوو میلیاردو ډالرو پورې مرسته کړې. د دې مرستو زیاته برخه د ټرانسپورټ، برېښنا، تحصیلي بورسونو، د سړکونو پخولو، د خوراکي توکو، ژمنیو مرستو او نورو برخو کې تر سره شوې ده. د هند له دې ټولو مرستو ښکاري چې دا هېواد په افغانستان کې د موجوده نظام کلک ملاتړی دی. د هند له مهمو هیلو یوه دا وه چې د افغانستان له خاورې پاکستان وڅارلی شي، ظاهراً داسې ښکاري چې په کندهار او ننګرهار کې د افغان حکومت له لوري هند ته د کونسلګریو په ورکړې سره، د هند دا هیله هم پوره شوې ده. په وروستیو څو کلونو کې هند د خپل نرم ځواک له لارې د خپل بهرني سیاست د بریا په اوج کې دی. هند وکولای شول چې د ډېری افغانانو زړونه لاسته راوړي. اوس مهال هند د افغانانو لپاره تر ټولو ښه ملګری او خواخوږی هېواد دی.

په ټوله کې په افغانستان کې د هند تګلاره په دوو سترو برخو را څرخېږي: لومړی یې په افغانستان کې د پاکستان د ستراتېژیک عمق خنثی کول او د یوه داسې رژیم د راتلو مخه نیول چې اساساً د هند دښمني غواړي او دویم پړاو کې د اوږدمهالو ډیپلوماتیکو او اقتصادي اړیکو په مرسته له یوه باثباته، نومیالي او هند پلوي رژیم سره اړیکې ټینګې کړي.

**د پاکستان افغان تګلاره**

د پاکستان له جوړېدو سره سم پاکستان له دوو هېوادونو څخه وېره درلوده: افغانستان او هندوستان. دا ځکه چې پاکستان له هند سره د کشمیر پر لانجمنه سیمه او له افغانستان سره د پښتونستان پر سر تربګنۍ او جنجالونه درلودل او لا یې هم لري.

د پاکستان له جوړېدو را وروسته دې هېواد هڅه کړې چې پر افغانستان د ډیورنډ کرښه ومني، همدارنګه دوی هڅه کوي چې هند په افغانستان کې فعال حضور او نفوذ ونه لري؛ ځکه که داسې وشي، نو پاکستان له دوو محاذونو سره مخ کېږي. په همدې موخه لکه څنګه چې هند په افغانستان کې د پاکستان د ستراتېژیک عمق خنثی کېدل غواړي، بالمقابل پاکستان هم په افغانستان کې د هند له نفوذ څخه وېره لري. د پاکستان په اند هند نه یوازې په منځنۍ اسیا کې د پاکستان مخه ډب کول غواړي، بلکې په جلال آباد او کندهار کې د هند کونسلګرۍ، د هندي استخباراتو اډې بولي او داسې انګېري چې له هغه ځایه په پاکستان کې د ورانکارۍ عملیات تر سره کوي.

لکه څنګه چې هند په افغانستان کې د یوه بنسټ پاله او جهادي حکومت له راتلو ناخوښ دی، داسې پاکستان په افغانستان کې د یوه ولسواک او ډیموکراټیک نظام له رامنځ ته کېدو اندېښنه لري. د هندي شنونکو په اند، هند په دې فکر دی چې که د طالبانو یا مجاهدینو په شان نظامونه رامنځ ته شي، نو په افغانستان کې به د هغو مذهبي او جهادي ډلو لپاره پټنځایونه او د روزنې مرکزونه برابر شي چې د کشمیر د ازادۍ په خاطر د هند خلاف جګړه کوي. بل خوا پاکستان بیا د یوه ولسواک او ډیموکراټیک نظام له راتلو څخه ځکه ناخوښ دی، چې د ډیورنډ او پښتونستان قضیه به را پورته کړي.

له هند سره د پاکستان شخړې او دښمني او د افغانستان- هند نږدې اړیکو له امله پاکستان وېره لري، چې هسې نه پاکستان د افغانستان او هند تر منځ راګیر شي. په همدې دلیل پاکستان تل هڅه کړې چې د افغانستان بهرنۍ چارې په تېره بیا د هند په اړه کنټرول کړي.

البته په افغانستان کې د دغو دوو هېوادونو د نفوذ کولو د هڅو تر منځ یو توپیر شته، هند د سیاسي، اقتصادي او تجارتي مناسباتو له لارې د نفوذ په لټه کې دی او پاکستان د نیابتي ډلو (جګړې او ورانکاریو) له لارې.

**پایله**

په افغانستان کې د هند- پاکستان د یو بل خلاف هلې ځلې او پالیسي، تر ټولو زیات افغانان اغېزمن کوي. موږ د خپل تاریخي رول له مخې تل په داسې قضیو کې ناپیيلي پاتې شوي یو؛ خو په وروستیو دوو لسیزو کې د یوه نا متوازن بهرني سیاست خپلولو له کبله نه یو توانېدلي، چې د هند او پاکستان په شان مخالفو هېوادونو اړوند د خپل بهرني سیاست توازن وساتلی شو.

له ۲۰۰۱ م کال وروسته په افغانستان د امریکا د «ترهګرۍ ضد جګړې» له امله افغان دولت هم د «ترهګرۍ» پر ضد جګړه پیل او دا یې د خپل بهرني سیاست یوه برخه وګڼله. په دې برخه کې د افغان دولت یوه لویه ستونزه دا وه چې په سیمه‌ییزو قضیاوو کې یې توازن ونه شو ساتلای، په تېره بیا د هند او پاکستان تر منځ. د بېلګې په توګه، د حامد کرزي په دوره کې د افغان حکومت اړیکې له هندي لوري سره د پاکستان په پرتله ډېرې نږدې وې؛ خو دغه چاره د پاکستان د ناخوښۍ سبب وه. د پاکستان پخوانی ولسمشر جنرال پرویز مشرف په یوه مرکه کې وایي: «موږ له ۲۰۰۱ م کال وروسته له افغان طالبانو څخه له دې کبله ملاتړ وکړ، چې افغان ولسمشر حامد کرزي له هند سره مرسته کړې وه چې له شا پر پاکستان ګوزار وکړي.»

همدارنګه د ولسمشر غني په مشرۍ د ملي یووالي حکومت په رامنځ ته کېدو سره، په لومړیو کې د کابل او اسلام آباد اړیکې ډېرې نږدې شوې. ولسمشر غني په لومړیو شپږو میاشتو کې هند ته هېڅ سفر ونه کړ او برعکس دغه مهال د کابل- اسلام اباد تر منځ د چارواکو سفرونه زیات شول؛ خو کله چې پاکستان د خپلو ژمنو په عملي کېدو کې پاتې راغی او طالبان یې د ۲۰۱۵ م کال په مارچ کې د سولې د خبرو میز ته حاضر نه شو کړای، نو د دواړو هېوادونو ګرمې اړیکې بېرته ورو ورو په سړېدو شوې.

هند او پاکستان د سیمې دوه مهم هېوادونه دي، د دغو دوو هېوادونو تر منځ تاوتریخوالی او شخړې په مستقیم ډول د سیمې په ځانګړې توګه د افغانستان پر امنیتي، سیاسي او اقتصادي وضعیت اغېز کوي. همدارنګه دواړه هېوادونه په سیمه کې ستراتېژیک ملګري هېوادونه لري او د دوی د اړیکو ترینګلتیا د سیمې په کچه د مختلفو هېوادونو تر منځ د اختلافاتو او رقابتونو د را ولاړېدو وېره زیاتوي، چې دغه وضعیت د افغانستان قضیه تر خپل سیوري لاندې راولي.

په افغانستان کې روانه جګړه داخلي، سیمه ییز او نړیوال اړخونه لري. له همدې امله ده چې په پای ته رسېدو کې یې د سولې هڅې ټکنۍ ښکاري. افغانستان کې د سولې لپاره تر ټولو ننګوونکې دا ده، چې څرنګه د ښکیلو خواوو، سیمه‌ییزو قدرتونو او په قضیه کې د دخیلو اړخونو مشروع ګټې په یوه چوکاټ کې په نظر کې ونیول شي، څو دا پروسه بریالۍ شي.

د سیمې په کچه د هند او پاکستان د اړیکو څرنګوالی د افغانستان د جګړې او سولې یو مهم اړخ ګڼل کېږي. پاکستان د افغان سولې په روانه پروسه کې د امریکا د سختو فشارونو له امله همکارۍ ته اماده ښکاري، پاکستان د ملا عبدالغني برادر په خلاصون، د امریکا- طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لیک او تازه د بین الافغاني خبرو په برخه کې په هلو ځلو سره ځان د افغان سولې د تامین په برخه کې یو ژمن ګاونډی ښیي؛ خو لا هم د پاکستان پر نیت شک او شبهات په خپل ځای دي. پاکستان ظاهراً د تېر برعکس، له افغان حکومت، طالبانو او متحده ایالاتو درې واړو خواوو سره د ښو روابطو ساتلو په هڅه کې دی، خو هند د قضیې له دوو اړخونو (افغان حکومت او متحده ایالاتو سره) په ارتباط کې دی.

هند په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان د سولې له بهیر سره محتاطانه چلند کوي او د افغانستان د حکومت له دریځ نه ملاتړ کوي. هندي شنونکي په دې باور دي چې پاکستان له سولې وروسته پر امریکا د فشار وسیلې له لاسه ور کوي او نوی ډیلی کولای شي د طالبانو له مختلفو ډلو سره خپلې اړیکې ورغوي او په افغانستان کې د نوي سیاسي دور له رامنځ ته کېدو سره هممهاله د ځان پر وړاندې د راټوکېدونکې حساسیت او د افراطي ډلو له متوجه خطراتو مخه ونیسي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې نهمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۳۰مه |۶۰۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۲۳ | ۲۵ | ۳۱ | ۲۷ | ۳۲ | ۲۹ |
| ▼ | ۱۲ | ۹ | ۱۵ | ۱۶ | ۲۱ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲٤ | لمر ختل ۰٥:٤٦ | ماسپښین ۱۱:٤٤ | مازیګر ۰۳:۰۷ | ماښام ۰٥:٤۱ | ماخوستن ۰۷:۰٤

## نړۍ



ملګري ملتونه: ارمنستان او اذربایجان دې ژر تر ژره روانه جګړه او تاوتریخوالی بند کړي ۳

## د کویټ امیر د ۹۱ کلونو په عمر ومړ




د کویټ امیر صباح الاحمد الجابر الصباح د ۹۱ کلونو په عمر د ورپېښې ناروغۍ له امله ومړ. د کویټ امیر پوره دوې میاشتې وړاندې په امریکا کې په یوه روغتون کې بستري شوی و. هغه تېره ورځ مازیګر مهال په همدې روغتون کې سا ورکړه. د الجزیرې د راپور له مخې د کویټ حکومت اعلان کړی: ((په ډېرې خواشینۍ سره باید دا خبر تر ولس ورسوو، چې د کویټ د امیر د مړینې له امله غمجن یو)).

له دې پېښې سره سم په کویټ کې رسنیو په خپلو معمولي نشراتو کې بدلون راوستی دی. د کویټ تلوېزیون خپلې خپرونې قطع کړې دي او پر ځای یې د قران عظیم الشان خپرول پیل کړي دي. شیخ صباح په دې وروستیو کې دوه ځله عملیات شو، خو د دغو عملیاتو د جزیاتو په اړه رسنیو ته څه و نه ویل شول. هغه په کویټ کې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه تر څلوېښت کاله خدمت وروسته په ۲۰۰۳ز کال کې لومړی وزیر او په ۲۰۰۶ز کا لکې د دغه عربي هېواد د امیر په توګه ګومارل شوی و.

## پامپیو: یونان او ترکیه دې د ستونزو د حل په موخه ژر تر ژره پیل مذاکرات کړي

د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو، له یونان او ترکیې څخه غوښتي چې د خپلو سمندري پولو د شخړې پر سر ژر تر ژره پیل مذاکرات کړي. دا په داسې حال کې ده چې ترکیې او یونان هوکړه کړې چې د مدیترانې بحیرې په ختیځ کې د اوبو د زېرمو د ملکیت د ادعاوو په تړاو مذاکرات بیا پیل کړي، خو د مذاکراتو لپاره یې نېټه نه ده اعلان کړې. پامپیو چې په دوه ورځني سفر یونان ته تللی، د هغه هېواد له لومړي وزیر کیریاکوس میتسوتاکیس، سره له کتنې وروسته یې ویلي: «هیله من یم چې دغه مذاکرات په جدي توګه دوام وکړي.» د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې امریکا د انرژۍ د لارو د متنوع کولو لپاره د یونان د هڅو ملاتړ کوي او د امریکا-یونان پر امنیتي همکارۍ باور لري. د ناټو د دغو دوو غړو (یونان او ترکیې) ترمنځ کړکېچ تېره میاشت وروسته له هغې زور واخیست، چې انقرې خپله یوه اکتشافي بېړۍ د دواړو هېوادونو ترمنځ لانجمنو اوبو ته واستوله چې د مدیترانې بحیرې په ختیځ کې د انرژۍ سرچینې په نښه کړي. په ۲۰۱۶ ز کال کې د دغو دوو هېوادونو ترمنځ مذاکرات وروسته له هغې ودرېدل چې د ۱۴ کلونو په ترڅ کې مذاکراتو ډېر لږ پرمختګ کړی و.

## پاکستان: به شمول دروازه تورخم تمام مسیر های بسته با افغانستان را باز می کنیم



حکومت پاکستان به شمول دروازه تورخم با خیبر پشتونخوا تمام مسیر های بسته باافغانستان را باز می کند. محمد صادق خان نماینده ویژه پاکستان برای افغانستان این اظهارات را در اسلام آباد با داکتر عبدالله عبدلله رئیس شورای عالی مصالحه ملی افغانستان در یک ملاقات بیان کرده است.

در این ملاقات اسد قیصر رئیس شواری ملی پاکستان، اراکین بلند رتبه دولتی هر دو کشور و اعضای سفر داکتر عبدالله اشتراک داشتند.


صادق خان گفته است که حکومت شان طرحی را نیز تصویب می کند که به تصویب این طرح تمام مسافرین افغانستان بتوانند به آسانی ویزه کشور پاکستان را بدست آورند.

نماینده ویژه پاکستان گفته است که سر از امروز(دیروز) سفارت و قونسلگری شان در افغانستان خدمات خود را آغاز کرده و به طور خاص برای اخذ ویزه تجار، مریضان و محصلین سهولت های زیادی را فراهم خواهند کرد. به گفته او، به شمول دروازه تورخم با خیبر پشتونخوا تمام مسیر های مشترک روزهای سه شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه و شنبه باز می شود. موصوف افزود، بخاطر باز کردن این راه ها به مسوولین مربوطه اطلاع داده شده است.

داکتر عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه فراهم کردن سهولت ها در بخش ویزه برای افغان ها را یک خوش خبری یاد کرد و گفت که این سهولت ها می تواند باعث پیشرفت ترانزیت و تجارت بین هر دو کشور شود.

## ژوند

## ریالمي بل ارزان بیه ځیرک موبایل معرفي کړ




د سپتمبر په پیل کې ریالمي کمپنۍ ریالمي۷ او ریالمي۷ پرو خرڅلاو ته وړاندې کړل، خو اوس دې کمپنۍ د دغو ځیرکو موبایلونو ارزان بیه بڼه ریالمي۷ ای هم معرفي کړه. دغه ځیرک موبایل چې په اندونیزیا کې په یوه غونډې کې معرفي شو، ۶٫۵ انچه اې سي ډې ډوله ایچ ډي پلس ریزلوشن لرونکې مخپاڼه لري او له ۹۰ هرتز ریفرش ریټ څخه ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډارګن ۶۶۲ ډوله پروسېسر، ۸ ګېګابایټ رم، ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ، چې له ۱۸ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي، ورکړل شوي دي. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۶۴ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټرا وایډ، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر په کې شامل دي. مخکینۍ برخه کې د سېلفي لپاره یوه ۱۶ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۲۱۵ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## سپما؛ تخفیفونو ته په تمه شئ




په ډېرې هېوادونو کې د کال په یوه ټاکلي وخت کې د کالیو، بوټانو او نورو اړینو وسایلو په بیو کې تخفیف اعلانېږي. که سمدستي د کوم جنس لپاره اړتیا نه وي او په راتلونکې کې یې د پېرلو اراده لرئ، بیا ښه ده چې د تخفیف د اعلانېدو ورځې ته په تمه شئ. ډېرې داسې جنسونه شته چې خپل وخت او بازار لري. د کال په بل فصل کې یې بیا دومره پېرودونکي نه وي. د بېلګې په توګه، د ژمي لپاره په اوړي کې ښه کالي پیدا کېدای شي. چاپېریال زموږ پر ورځنیو لګښتونو نېغ اغېز لري. هوښیار اوسئ او په دقت سره فکر وکړئ، چې ولې یو جنس پېرئ؟ د سوداګریزو اعلانونو له مخې توکي مه اخلئ. د داسې اعلانونو پر رښتینولۍ شک وکړئ، ځکه هغه داسې جوړ شوي چې تاسو د ډېرو پیسو لګولو ته مجبوروي. د هغوی همدا دنده ده چې د محصول خیالي بڼه تاسو ته در ښکاره کړي، نه هغه څه چې رښتیا دي. له پېرلو مخکې د قېمتي شیانو په اړه په انټرنېټ کې پلټنه وکړئ څو مناسب جنس پیدا کړئ.

د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
• لندمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزی بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515

